# د پښتو کلاسیک اؤ جدید فلمونو کلتوري بیانیې تقابلي جائزه

ډاکټر محمد سهیل خان ، پښتو څانګه ، عبدالولي خان پوهنتون مردان
فرید اڅرجان، ایم فل سکالر ،دَ پاکستاني ژبو څانګه ، علامه اقبال اوپن پوهنتون

## لنډیز :(Abstract)

پښتونولي دَ پښتون تاریخ ، کلتور اؤ چاپیر چل پهٔ رڼا کښې دَ ژوند دَ تېرولو هغه نا لیکلے " آئین " دے چې اډانه ئې دَ دوي روایات اؤ اقدار دي. پښتون کلتور دَ زرګونو کلونو دَ روایاتو تحفظ هم لري اؤ دَ ارتقا اؤ تنوع له پاره دَ جدت پراختیا هم لري. دَ پښتون کلتور دَ ترجمانۍ اؤ منظر کشۍ له پاره "فلم" یؤ زوره وره آله ده . پهٔ دې مقاله کښې به دَ کلاسېک دور فلمونو ( تر دوه اتیایم نه مخکښې ) اؤ دَ جدید دور فلمونو( تر کال 1999 نه مخکښې ) دَ کلتوري بیانیې تقابلي جائزه اخستې شي.دې مقاله کښې به دا تعین کېږي چې دَ فلمونو دواړه دورونو کښې به دَ پښتون کلتور اساس پهٔ کومو تاریخي ، سیاسي ، معاشي اؤ سماجي اډانو باندې وي. ددې مقالې له پاره معیاري طریقه تحقیق چې پهٔ بیانیه کېس سټډي به ارتکاز لري ورسره به دَ موادو معیاري تجزیاتي اصول پکار راوستل کېږي.دَ نمونې دَ انتخاب له پاره لس فیصده فلمونو چې دَ ۱۹۷۰ نه تر ۱۹۹۰ یو سل اووه جوړېږي، نه دَ لسو فلمونو انتخاب ووشو . هم دغه رنګ دَ جدید فلمونو نه هم دَ لسو فلمونو انتخاب ووشو.دَ نتیجې تر مخه پهٔ کلاسېک فلمونو کښې اتیا فیصده کلتوري بیانیه دَ " پښتونولۍ " سره سمون خوري. ولے جدید پښتو فلمونو کښې دا سمون صرف ۴۰ فیصده ؤ. دَ کلاسیکیت فلمونو کلتوري بیانیه دا ده. پښتون دَ دنیا باشعوره ، پوهه ، مهذبه ، بهادر، دَ صبر مالک ، دَ ټولنیز ژوند ماهر اؤ دَ پت ښېګړے ، وفا ، تورې اؤ ننګ نمونه دے. ولې پهٔ جدید فلمونو کښې پښتون بدتمیزه ، بدمعاش ، غېر مهذبه ، دَ پوډرو ، چرسو اؤ شرابو عادي ، دَ ښځو دَ ډانسونو شوقي اؤ دَ بې حیائۍ نمونه ښودلے شوے دے . جدید فلمونه دَ پښتون کلتور منفي عکاسي کوي . بل اړخ ته کلاسېک فلمونو دَ پښتون کلتور مثبت عکاسي کړې ده.

## تعارف

پښتنه ټولنه دَ نورونه دَ ساخت پهٔ توپیر ځانګړتیا لري.دا ټوپیر بغېر دَ تارېخي کلتوري مطالعې نهٔ کېږي. کهٔ چرې دَ نړۍ دَ کلتور پراخه مشاهداتي تجزیه وکړې شي نو پښتون کلتور به پکښې پهٔ دې بنیاد مهم وي چې دَ نا لیکلے دستور " پختونولۍ" دَ اډاڼې لاندې محفوظ دے. کلتور دَ روایاتو تحفظ کوي . ولې دَ موجوده ښهریت ( اربنائزېشن ) له عمله پهٔ پښتون کلتور دَ نورو ټولنو دَ کلتوري اثراتو واضحه انځور لیدے شي.

پښتون کلتور دَ پښتونولۍ دَ قامي ، ملي ، ځاني، سماجي اؤ معاشي چوکاټونو لاندې پهٔ بنیادي ارزښت لري.هم دغه وجه ده چې پښتون کلتور دَ پښتونولۍ هومره زوړ دے . روایات ئې ژوندي دي. ولې دَ ارتقا اؤ بدلون له پاره ئې ارته سینه هم دَ کوبل کلتور نه کمه نهٔ ده.

دَ پښتون کلتور اساس هغه ادارې دي چې دَ پښتون دَ ژوندي تاریخ پهٔ ژوندی بڼه دوي سره راروان دي . دغهٔ ادارې جرګه ، حجره اؤ جمات دي. یعني پښتون کلتور دَ شخړو هوارؤلو له پاره دَ لوئي کردار مالکانو پهٔ کمک داسې یو مفت ، کورنیز اؤ قابل اعتماد فورم لرې چې دوي ئې پهٔ جوړښت ، ساخت اؤ کردار فخر کوي.

دَ پښتون کلتور بل اساس داسې یو سماجي اداره ده چې مشرانو دَ سیوري لاندې دَ کشرانو دَ تعلیم اؤ تربیت انتظام هم کوي. دَ غم ښادی شریک احساسات هم پکښې وده مومي اؤ دَ ټوله ورځ سخت مشقت نه پس دَ ټولو ارزان کورنیز تفریح هم ورکوي. حجره دَ مصلې اور رباب دواړو مشترکه اداره ده چې دَ دواړو دَ تحفظ عمل پهٔ خپل کردار کوي . دَ پښتون کلتور بله اهمه اداره جوهم دَ نورو ټولنیز کلتورونو مقابله کښې خپله ځانګړتیا برقرار ساتي . دا پهٔ یو وخت مسافر خانه هم ده دَ نکاح تړلو شرعي مرکز هم دے . دَ تعلیم اؤ تربیت لاربنودنه هم کوي . دَ غم فاتحې هم پکښې کېږي اؤ یو غټ سولئیز مرکز هم دے. دَ پښتنو جومات حقیقحي معنو کښې یو سماجي اداره پاتې شوے ده.

دَ پښتون کلتور ځنې نورې مهم اولسي ستنې هم دي. چې فهرست ئې دادے. [1]

1 ننواتې 2 مېلمستیا 3 اشر 4 سوره 5
عزیزولي 6 تیګه 7 بدک 8 بدرګه
9 لوبې 10 ګیله 11 پېغور 12 سیالي
13تربورولي 14 ننګ 15 غیرت 16 ملاتړ 17 وفا
18 ښېګړه 19 جامه پېزار 20 خوراک څکاک 21 دَ تجارت پېشې
22 دَ تګ راتګ وسیلې 23 ادبي ذوق 24 قیصه ګوئي 25 ملکي
خاني 26 برابري 27 مشري 28 چغه 29 اپه
30 پت 31 تور

## پهٔ پښتون کلتور باندې دَ رسنو اثرات :

پهٔ ټولنیز ژوند باندې درسنو کردار مسلمه دے . رسنو پهٔ اطلاعاتو ، تفریح، تعلیماو کلتور بنادی ځانګړې اثرات ولرل. فلم دَ تفریح دَ لارې دَ رسنو یو اهم اوزار دے. پښتو فلمونو نړۍ ته خپل کلتور څنګه ښودلے دے؟ پښتون قام " پښتونولی " ښځینه کردار اؤ اجتماعي پوهه ورته څهٔ رنګ پهٔ ګوته شوے ده . دَ رسنو دَ ټولو غټ فعالیت دادے چې دا نوے بیانیه جوړې . زړهٔ قبللوې یا رد کوي اؤ نوې بیانیه راوړو ته لاره هم هواروي. [2]

بیانیه دَ واقعاتو تر مخه دَ افرادو دَ کردار مشترکه فهم وي..دغه واقعات دَ رسنو دَ کردار دَ وجې فهم جوړولو باندې اؤ دَ فیصلې توان راوړلو باندې مهم اثرات غورزوي. دَ کلتور نړیوالو ماهرینو لکه نیونت اؤ واولکاټ دَ بیاني جوړولو له پاره رسني کردار اهمه وسیله ګرځولې ده. دَ پښتون پهٔ قبائلي ژوند جوړ فلمونه دَ پښتني خاورې پهٔ تاریخي اؤ کلتوري ارزښت باندې جوړ شوي دي چې پښتونولي پکښې عکاسي شوې ده.پښتونولي دَ پښتنو نا لیکلے آئین دے. چې روایتي پښتون خاوریز شعور پکښې پهٔ ډاګه شوے دے. ټیلي وژن اؤ فلمونو اجتماعي شعور له وده ورکولو کښې لوئے کردار لوبولے دے اؤ پهٔ کلتوري بیانیه جوړولو کښې دَ رائے جوړولو له پاره لاره هواره کړې ده. دَ قام اجتماعي اؤ کلتوري فکر پهٔ ټیلي وژن کښې ښکارېږي. دَ پښتو فلمونو بنسټ ګرې سره دا دَ خپل وخت دَ شهرت عروج ته ورسېدل. پهٔ مېنځ کښې دَ کلتور دَ غلط نمائندګی له کبله دَ فلمونو شهرت ته ډېر زیان ورسېدو. پهٔ دې هڅه کښې ځنې خارجیان هم ملوث وو اؤ ځنو خپلو هم کلتوري بیانیې ته قصدا زیان ورکولو هڅه کولو کښې مصروف وو. ښځینه کردارونه پهٔ داسې ډول وښودل شول چې دَ روایتونو بند ئې مات کړو. دغه لیکوالانو اؤ فلم جوړونکو دا ښودل غوښتل چې پښتنې ښځې دَ اظهار ازادې غواړي. ذهنونه ئې کولاؤ دي. دوي طاقتورې اؤ مهم جو دي. ولې بل خوا دا حقیقت مسلمه وُ چې دا رنګ ښودنه دَ پښتون کلتور دَ روایاتو سره سمون نهٔ خوړلو.پښتنه ښځه دغه رنګې ازاد خیاله ښودلو څهٔ ګټې لاس ته راوړې دي یا څهٔ نقصانات ؟ ولې دا اهمه خبره ده چې پهٔ دې موضوع دَ پښتو څېړنکارانو هم قلم نهٔ دے پورته کړے. له دے عمله دا موجوده مقاله به دا احاطه کوي چې دَدې خبرې جاج واخلي چې کلاسیک اؤ جدید فلمونو دَ پښتون کلتور نمائندګي پهٔ کوم ډول کړې ده. دې مقاله کښې به دَ دواړو دورونو دَ تقابلي جائزې اخستو

نه علاوه به دا هم وکتلے شي چې په دغو کښې مشترکات او اختلافات د کومو کلتوري ادانو په اساس مثبت يامنفي ښودلي شوے دي. [3]

دا فلمونه مونږ ته د پښتو ادب مقام هم په ګوته کوي. کلتور د ژوند په هر ډګر اثرات غورزوي. لکه موسيقي ، ادب ، کتونکي فن، لرغونتوب، ژبه او د ژوند د تېرولو دود دستور. کلتور د سوچ کولو معنوي رخ ته هم وائي.دا د هر وګړي سره د زده کړې او نورو سره د اشتراک مفهوم هم لري. لفے عمله به دا مقام د پښتون کلتور د رسنو د لارې د نمائندګی هراړخيز سپړدنه کوي. دا به هم معلومولے شي چې په پښتو فلمونو کښې د تشدد ، غېر شائسته جملو ، جنسيت استعمال د پښتنولی او کلتور سره څومره مطابقت لري. د دې تحقيق د پاره به د معياري طريقه تحقيق د بياني ارتکاز د لارې د موادو تجزياتي اصولو طريقه کار خپل کړے شوے دے. ددغه طريقه کار په چوکاټ کښې به د مقالې د غټو سوالونو جواب لټولو هڅه کولے شي. ددې مقصد د پاره د د هغه سلو کردارونو جاج واخستل شو چې د منتخب شوي شلو فلمونو نه اخستي شوي دي. د دغه ټولو کردارونو " واقعات او منظرکشی تجزيه د موازنې د سېموټک تجزيې لاندې سر ته ورسولے شوه.

په دويمه برخه کښې د کلاسيک او جديد فلمونو د سکرپټ موادي تجزيه کار لاندې وڅېړلے شوه . چې دغه لس لس فلمونو سکرپټ د کلاسيک او جديد فلمونو نه واخستل شول.

دې کښې هيڅ شک نشته چې د زمانې د ګلوبل ترقی سره په کلتور باندې هر اړخيز اثرات راغلي دي. او دغه طرز ترقی د پښتون په روايتي اقدارو او کلتوري اساسونو باندې هم خپل تاثير ولوبوه. د پښتو ادب او پښتونولی لمن د ګلوبل طرز ترقی د لاسه د ګلونو نه ډکه شوه که د ازغو نه او که د دواړو د امتزاج نه.

پښتون کلتور نړۍ ته خپل مخ د فلمونو د لارې څنګه وښود او نړۍ زمونږ مخ د خپلو فلمونو د لارې څنګه وښود؟ دا هغه سوالونه دي چې جواب به ئې دې مقاله کښې لټولي شي.

## په موضوع د شوي کار جائزه

په دے موضوع څومره کار شوے دے. او د دغه څېړنو نتائج څه وو. او څه لاس ته راوړنه ئې کړے ده. په دے حواله څ تذکره مناسبه ده چې وُشي.

په اکادمي بحث کښې په نسليت ، قاميت ، علاقائيت او کلتور څېړنکاري څه نوے خبره نۀ ده. په پښتون کلتوري نمائندګی باندې د رسنو کردار هم ډېرو څېړنکارانو څېړلے دے.

په اردو او پنجابي فلمونو کښې د ښځينه کردار جائزې اخستلو د پاره ارشد او نورو څېړنه کړې ده. [4] چې د اته اتيا نه تر نهه نوي فلمونو جائزه ئې اخستلے ده. دوي د اته ځلوېښتو فلمونو جائزه کښې دا ثابته کړې ده چې پاکستاني ښځې په اردو او پنجابي فلمونو کښې صحيح نۀ دي ښودلي شوي . د پاکستان ښځو ته څۀ ستونځې دي . ددې هډو جائزه نه ده اخستي شوې . دوي دا نتيجه هم راوېستي ده چې پاکستاني ښځو باندې سړو ته فوقيت ښودلے شوي دی. او د ښځو ځانګړې سماجي او سياسي جدوجهد په مکمل توګه د نمائندګی د حق نه محرومه کړے شوے دے. ددې څېړنې تر مخه په رسنو د ښځو نمائندګي ښودلي شوې ده ولې دا نۀ دي ښودلے شوے چې دغه نمائندګی د ښځو صحيح ترجماني کولو کښې څومره لاس ته راوړنه کړې ده. ولې څېړنکارانو دلته دا واضحه کړې نۀ دي چې ددغه اته ځلوېښته فلمونو انتخاب په کوم سائنسي يا ټېکنيکي بنياد شوے وُ. دغه رنګ دے څېړنې خلا پرېښودې ده.

په پاکستاني فلمونو کښې وطن پرستی لاندې د ښځو کردار جائزه باندې يو بله څېړنه شوې ده. چې په ځلورو فلمونو بول ، دختر ، بچانا او خدا کے ليے ، کښې د ښځينه کردارونو نمائندګي د وطن پرستی د نظريے لاندې څېړلي شوې ده.

په دے بيانيه تحقيق کښې د ښځو کردار ډېر بهادر او شواخون اخستو والا ښودلي شوې دی. وطن پرستي پکښې د مساوي جنسي حقونو د نظر لاندې رد کړے شوے ده. په دے تحقيق کښې دا دليل نۀ دے ورکړے شوے چې ددغه ځلورو فلمونو

دَ انتخاب منطقي طريقه کار څۀ وُ؟ دا هم نۀ دي ښودلي شوې چې ددې ځلورو فلمونو نتيجه څنګه اصولي تسليم کېدے شي.

دَ هند فلمونو ښځينه کردارونو نمائندګی باندې " لي " نومي څېړنکارې کار کړې دی. دَ هند فلمونو پۀ يو وخت ښځه مظلومه اؤ طاقتوره ثابته کړې ده. ولې څېړنکار څۀ مهم نتيجې ته نۀ دې رسېدلے اؤ صرف دا نتيجه ئې اخذ کړې ده چې دَ ښځو ليکوالانو ، پروډيوسرانو اؤ هدايت کارانو راتګ به ښځه نوره هم وتوانوي.په هندي فلمونو ډېرې څېړنې شوې دي. دوي پۀ دغه څېړنو کښې دا ثابته کړې ده چې هندي فلمونو کښې دَ کلتورنمائندګي ډېره حده پورې سمه شوې ده. دتا پۀ خپله څېړنه کښې دَ کلتوري شناخت مسئله اوچته کړې ده. 5 دا څېړنه دے نتيجې ته رسېدلے ده چې هندي فلمونو کښې دَ اتيايم نه مخکښې کلتور پۀ خپل مفهوم کښې سم ښودلے شوے دے. ولې دَ اتيايم نه ورستو کلتوري بنيانيه کښې تضاد راغلے دے. کليوال رنګونه دَ ښار رڼا ګانو کښې غيب شوې دي. څېړنکاره وائي چې هندي سينما کلتورد حقيقت برعکس ښودلے دے. دا دې نتيجې رسېدلے ده. چې مذهبي هم آهنګي دَ هند دَ کلتور خاصه وه خو دَ يويشتمي صدی فلمونه مذهبي جذبات راپارولو کښې لوئے کردار ادا کوي . دغه رنګ دَ خالص کلي وال ژوند جامه پېزار اؤ ناته ولاړه هم دَ حقيقت پۀ ځائے پۀ مبالغي زور لګولے دے.

تر څو پورې چې دَ پښتو فلمونو باندې دَ څېړنې تعلق دے . نو دا کار دَ نيشت برابر دے. محقق پۀ ے حقله دَ اخبارونو اؤ رسالو دَ شوبز دَ راپورنو نه علاوه څۀ څېړنيز مواد وُنۀ موندل . بس ددغه فلمسازانو ، اداکارانو، ليکوالانو ، ګلوکارانو اؤ نورو هنرمندو دَ انټرويوګانو نه علاوه پۀ نظر نور څۀ نۀ راځي.

غالبا ددې وجه رجعت پسندانه خيالات هم دي. چونکې پۀ پښتونخوا کښې دَ سينماګانو تعداد ورځ پۀ ورځ پۀ کمېدو دی . پېښور کښې امان ، فردوس، صابرينه ، مېټرو ، ريګل ، نوښار کښې ګلستان ، شبستان ، مردان کښې ننداره ، سپين زر، تاج اؤ ګولډن اؤ سوات ، ډېره اسماعيل خان ، بنو کښې سينماګاني ختمي شوے. دا ټولې سينماګانې دَ رجعت پسندی ، معاشي توان اؤ عدم تشدد دَ وجې ختمي کړې شوې. دغه رنګ دَ کلتور بيانيه مخ پۀ وړاندې تلو کښې دَ تفريح دَ لارې دَ رسنو لويه ذريعه پۀ ټپه ودريده. دَ دغه سينماګانو دَ ختميدو يوه وجه عوامي عدم اعتماد هم دے چې دَ پښتني کلتور پۀ ځائے دَ مصنوعي بيانيے پرچار کوي. فحاشي ، ذومعني ټکو استعمال ، تشدد، غلا ډاکې، وهل ټکول پکښې دومره زيات شو. چې عوامو دَ سينما رخ پرېښودو اؤ دغه رنګ سينماګانې دَ معاشي ستونځو سره مخ شوے اؤ آخر کار پۀ بنديدو شوے.

پۀ دے مقاله کښې دا معلومه کړې شوې ده چې کلاسيک اؤ جديد فلمونو دَ پښتون کلتور اؤ پښتونولی بيانيه پۀ کو اړخ اوړے ده.

## دَ تحقيق پورته شوي سوالونه

ت س 1 پښتو کلاسيک فلمونو کښې دَ پښتونولی دَ اساس کلتوي بيانيه څنګه ښودلے شوے ده ؟

ت س 2 پښتو جديد فلمونو کښې دَ پښتونولی دَ اساس کلتوي بيانيه څنګه ښودلے شوے ده ؟

ت س 3 دَ پښتو کلاسيک اؤ جديد فلمونو کښې کلتوري بيانيے تقابلي جائزه ، دَ پښتونولی دَ اساس پۀ بنياد څه تفاوتونه لري ؟

## دَ تحقيق طريقه کار

ددے تحقيق طريقه کار معياري دے . چې پۀ بيانيه کېس سټډي لارښود باندې پائے ته رسولے شوے دے.

بيانيه معياري کېس سټډي کښې دَ يو پيچيده مظهر سپړدنه پۀ داسې ډول کولے شي. چې دَ متغيراتو خپل مېنځ کښې تکلق دَ يونټ دَ کلهمې مطالعے اؤ تجزيے نه پس واضحه شي. دے دَ پاره مواد دَ مختلفو ذرايعو نه راغونډولےشي. پۀ دے طريقه کښې دَ بېلا بېلو زاويو لاندې دَ مظهر تشريح ممکن شي. 6

دَ بيانيې کېس سټډي انتخاب ځکه ووشو چې دلته دَ پښتو فلمونه اؤ دَ هغې کلتوريې ، بيانيې باندې اثرات کتل ؤ. اؤ دَ يو يونټ په توګه کتل ؤ نو دَ کېس سټډي ډيزائن پرې نېغ په نېغه فائده مند ؤ.

ابتدائي موادو له پاره دَ شلو پښتو فلمونو مثبت کردارونه واخستل شول . ده هغوي دَ پښتونولی دَ کلتور اساسيز پريکړې وشوے . اؤ يو شان ولاړ پکښې په ګوته کړے شو. ددے لارې کېټيګريز جوړ کړے شو.

په دوېمه برخ کښې ددغه فلمونو دَ سکرېټ موادو تجزيه په موازناتي سيموټيک آله واخستلي شو.

دَ موازنې اؤ موادي تجزيه اؤ موادي تجزيه دَ کېس سټډي په چوکاټ دَ ځنې پخواني اؤ اوسني فلم سازانو، اداکارانو اؤ ګلوکارانو په انټرويوز باندې دَ تکوني قوي توب دَ مرحلے نه تير کړې شول.

## دَ موادو نمونے انتخاب

په پښتو فلمونو باندې دَ جديديت آثار دَ کال ۱۹۸۶ خواوشا شروع شوي ؤ. له دے کبله دَ کلاسکيت دور دَ ۱۹۷۰ نه تر ۱۹۸۶ پورې واخستي شو. په دغه دور کښې دَ سلو نه زيات کلاسيک فلمونه جوړ شوي وو. اؤ دَ ٪۱۰ نمونياتي طريقے مطابق ددغو نه لس فلمونه واخستل شول. دَ دغه لس فلمونو دَ انتخاب دَ پاره مقصدي طريقه خپله کړے شوه . هم په دغه طريقه دَ جديد فلمونو دَ انتخاب دَ پاره دَ يووېشتمي صدی لس فلمونو واخستل شول . په " مقصدي" انتخاب کښې دا کتنه هم وکړے وه چې کوم فلمونو په باکس آفس تر ټولو مشهور ؤ. خلقو ولې دغه فلمونه خوښول اؤ کتل ئې غوښتل . چونکه دَ پښتو فلمونو ياد فلم انډسټرۍ څۀ خپل مواديز ويب پاڼه نشته . ددے وجې نه ۱۹۷۰ نه تر ۱۹۸۶ پورې دَ فلمونو باره کښې دَ اخبارونو دَ اشتهاراتو نه دَ آرکائيوز لائبرېرۍ پېښور دَ اخبار سېکشن نه استفاده وکړے شوه. دَ فلمونو دا انتخاب دَ پاره دَ مشرق ، آج ، ايکسپرېس ، ډان اؤ دي نيوز اخبارونو شوبز راپورنو نه رائے واخستلے شوه. 7

په دغه فلمونو کښې اتيا مثبت کردارونه دَ مقصدي طريقه کار لاندې خوښ کړے شول. دا کردارونه کلاسيکيت اؤ جديد فلمونو دواړو کښې وکتل شول . دا اتيا کردارونه راغونډونه پس واضحه کړے شول اؤ بيا تجزيې ته وړاندې کېښودې شول. په دغه تجزيه کښې تجزياتي سيموټک آله استعمال کړے شوه اؤ دَ " قابو" دَ پاره پښتو ادب معيار وګڼلے شو. چې دَ پښتو ادب په تله دغه کردارونه تجزيه کړے شول.

## موادي تجزيه :

دَ مخکښې نه منتخب کړے شوي کلاسيک اؤ جديد فلمونو کردارونه بېل کړے شول اؤ دَ پښتو ادب په تله دواړو کښې فرق مونډولو هڅه پېل کړے شوه. دَ سيموټک تجزياتي عمل نه پس سيموټک کوډونه وشمېرل شول چې دَ پښتو ادب دلے نه کوم کردارونه مختلف دي.

دغه سيموټک کوډونه دَ پښتو ادب دَ اکادمی اؤ پشپړه معياري کتابونه نه اخذ کړے شول . دغه جدول دَ پښتون کلتور نمائندګي کوي. دَ دغه جدول دَ کوډونه سره ټول کردارونه موزنه کړے شول. دَ موازناتي سيموټک تجزيے له پاره په کلاسيک اؤ جديد فلمونو کښې اتيا مثبت کردارونه منتخب کړے شول اؤ دَ پښتو ادب په معياري تله ؤ تللے شول. دَ هر فلم نه څلور کردارونه واخستل شول . دَ دې کردارونو انتخاب دَ "مقصدي" طريقے لاندې ووشو. اؤ په دے برخه کښې منفي کردارونه قصدا نظرانداز کړے شو . دَ هر انفرادي کردار وينا اؤ ډائيلاګ دَ ليک دَ لارې خوندي کولو نه

پس باقاعده تجزيے ته پېش کړے شول.او دا هم تجزيه کړے شوه چي دَ هر کردار ، ژبه اؤ کلتوري چوکاټ دَ پښتو ادب اؤ پښتونولی اساس سره څومره سمون خوري 8

پۀ دويمه برخه کښي هغه سيموټک کوډونه وشمېرل شو. چي پۀ دواړو کلاسيک اؤ جديد فلمونو کښي دَ زماني توپير څنګه عکاس کړے شوے دے. دغه شلو فلمونو کښي څني متغيرات دَ پښتو ادب اؤ کلتور اساسي بنياد باندي انتخاب نه پس دَ تجزيے عمل لارې تير کړې شول . پۀ دے مقاله کښي دغو متغيراتو ته پاملرنه وګرځولي شوه چي دَ پښتون کلتور اساس نه مختلف ؤ. 9

## دَ کلاسيک فلمونو نومونه اؤ تفصيل 10

| شمېره | دَ فلم نوم | کال | ساخت | پروډيوسر | هدايت کار |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | يوسف خان شېر بانو | 1970 | ډرامه/ فوکلور | نذير تبسم | عزيز تبسم |
| ۲ | عجب خان | 1971 | ژوند قيصی | فرحان منير | بدرمنير |
| ۳ | دره خيبر | 1971 | تاريخي | حبيب الله | ممتازعلي خان |
| ۴ | ادم خان درخانی | 1971 | فوکلور | شکيل اختر | عزيز تبسم |
| ۵ | علاقه غير | 1972 | تاريخي | حبيب الله | عنايت الله |
| ۶ | اوربل | 1974 | فوکلور | سردار خان | ممتاز علي خان |
| ۷ | ديدن | 1975 | ډرامه | کے آفريدي | ممتاز علي خان |
| ۸ | انصاف | 1985 | ډرامه | مسافر | عزيز تبسم |
| ۹ | پړانګ | 1985 | تاريخي | شهباز خان | ارشاد احمد صابري |
| ۱۰ | دا ګز اؤ دا مېدان | 1982 | ډرامه | عزيز حسين | عزيز تبسم |

## دَ فلمونو لستہ چي کردارونه ئې تجزيې ته وړاندي شو[11]

| شمېره | دَ فلم نوم | دور | کردارونه | فلم کښې دَ کردار نوم |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | عجب خان | کلاسیک | هیرو، هیروئن ، سپورټنګ کردار | عجب خان ، ګل ښانګه، شهزاده ، بانو |
| ۲ | انصاف | کلاسیک | هیرو، هیروئن ، سپورټنګ کردار | شمروز خان ،حیدر خان، قادر خان،ذکیه |
| ۳ | اوربل | کلاسیک | هیرو، هیروئن ، سپورټنګ کردار | دلاور خان، شاه ګل ، انسپکټر صېب، شاندانه |
| ۴ | پرانګ | کلاسیک | هیرو، هیروئن ، سپورټنګ کردار | شاباز خان ، سارا ، دلاور |
| ۵ | علاقه غیر | کلاسیک | هیرو، هیروئن ، سپورټنګ کردار | سلیم خان ، پلوشه، کشماله |
| ۶ | دره خیبر | کلاسیک | هیرو، هیروئن ، سپورټنګ کردار | نواب خان،تاجه،اکبرخان،پلوشه |
| ۷ | دیدن | کلاسیک | هیرو، هیروئن ، سپورټنګ کردار | تاج ، لیونی، سلیم، ګلشن |
| ۸ | دا ګز دا میدان | کلاسیک | هیرو، هیروئن ، سپورټنګ کردار | نادر خان ، دَ نادر خان تبر، افضل خان، افضل خان تبر |
| ۹ | آدم خان درخانی | کلاسیک | هیرو، هیروئن ، سپورټنګ کردار | آدم خان، درخانی، بانو، مارو |
| ۱۰ | یوسف خان شیربانو | کلاسیک | هیرو، هیروئن ، سپورټنګ کردار | یوسف خان ، شیربانو، دلاور خان ، بندے |
| ۱۱ | داغ | جدید | هیرو، هیروئن ، سپورټنګ کردار | نوراسلام، روخانے، ښکلا |
| ۱۲ | جیل | جدید | هیرو، هیروئن ، سپورټنګ کردار | شبرام خان ، دلاور، ګنجی ،ړنده |
| ۱۳ | زه یم ککي خان | جدید | هیرو، هیروئن ، سپورټنګ کردار | ککے خان ، ندیم ، یاسمین،ثمینه |
| ۱۴ | آخر زړۀ دے کنه | جدید | هیرو، هیروئن ، سپورټنګ کردار | شهنشاه، نرګس، ندیم، مینه |
| ۱۵ | جوارګر | جدید | هیرو، هیروئن ، سپورټنګ کردار | جانس خان ، قمر ګله، امان کاکا، شهزاده |
| ۱۶ | تېزاب | جدید | هیرو، هیروئن ، سپورټنګ کردار | عثمان ، مینا، کائنات، دَ عثمان مور |
| ۱۷ | سرتیز | جدید | هیرو، هیروئن ، سپورټنګ کردار | سرتیز بدمعاش، سرتیزبدمعاش ګرل فرینډ، ماسټر صېب، صنوبر |
| ۱۸ | الزام | جدید | هیرو، هیروئن ، سپورټنګ کردار | ملنګ جان ، ملنګ جان ګرل فرینډ، دلبر ، دَ دلبر منګیتر |
| ۱۹ | ګنده ګیر | جدید | هیرو، هیروئن ، سپورټنګ کردار | معمور خان ، صبا، شهزاده، شازیه |
| ۲۰ | انداز | جدید | هیرو، هیروئن ، سپورټنګ کردار | بیداربخت، یاسمین، جهانګیر، دلربا |

## دَ سیموټک کوډنګ[12]

| نمبر شمار | سیموټک کوډ | تفصیل |
|---|---|---|
| ۱ | کلتوري تهذیب (جرګه اؤ حجره) | کۀ یۀ کردار کلتوري تهذیب لري نو مثبت عکاسي به کوي لیکن غیر کلتوري به منفي عکاسي بللے شي. |

| | | |
|---|---|---|
| ۲ | پیشه | کهٔ یۍ کردار پیشه ور وي نو مثبت رخ به ښائي او کهٔ غیر پیشه ور وي نو منفي رخ به ښائي |
| ۳ | دَ بدن حرکات / اشارې | کهٔ یۍ کردار پښتون کلتوري اساس سره سمې اشارې کوي نو مثبت رخ به ښائي او کهٔ نا سمې اشارې کوي نو منفي اړخ پهٔ ګوته کوي |
| ۴ | ژبه . ډائیلاګ | کهٔ ژبه دَ پښتون ټولنیز اقدارو سره سمون خورینو مثبت اړخ ښائي او کهٔ دغه اقدارو سره سمون نهٔ خوري نو منفي |
| ۵ | دَ مخدره موادو ښودنه | کهٔ کردار سره دَ شرابو ګلاس، چرسو سګریټ، عام سګریټ او چیلم وي نو تعمیري اړخ نه ښائي . که دا ورسره نهٔ وي نو تعمیري اړخ څرګندوي |
| ۶ | بیهوده نمائش | بیهودګۍ سره نمائش کول منفي او دَ دغه کردارونو پهٔ ځائے پښتنیز اساسي کردارونه کول مثبت اړخونو عکاسي کوي. |
| ۷ | دَ تشدد نمائش | دَ قتل ارادي سره حمله کول . پهٔ ماشومانو بوډاګانو او ښځوظلم زیاتي کول منفي څرګندوٓنه ده او دَ دغي نه ډډه کول مثبت سوچ له وده ورکوي |
| ۸ | جامه پیزار . خوراک څښاک | کهٔ یۍ کردار دَ پښتون کلتور سره سم جامه پیزار اغوستي وي . یا پښتون کلتور سره سم خوراک څښاک کوي نو دا مثبت اړخ ښائي که ساسي نهٔ وي نو دا منفي څرګندوٓنه کوي. |
| ۹ | مشرانو سره سلوک | کهٔ دَ مور پلار ، نیا نکګهٔ او نورو مشرانو سره دَ عزت سلوک ښودلي شوي وي نو دا مثبت او کهٔ دَ مشرانو سپکاوۍ پکښي ښودلے شوي وي نو دا منفي عمل دے |
| ۱۰ | دَ ښځو سره سلوک | کهٔ دَ ښځۍ سره دَ پښتونولۍ سره سم سلوک شوي وي نو دا مثبت اړخ ښائي او کهٔ دوي سره پښتون کلتور خلاف سلوک کوي نو دا منفي څرګندوٓنه ده. |

## سیموټېکس :

دَ نخښو او علامتونو مطالعي ته وائي . چینډلر دي باره کښي وائي چي اشارې معنوي فهم هم خپروي بلکه داسي واسطه هم جوړوي چي معنوي اصطلاح خپله جوړه کړي.

ایکو (نوم) پهٔ خپله مقاله " دَ سیموئټکس تیوري" کښي وائي چي اشارې باتدئي طریقه ده دَ پېغام رسانی . هوه دا هم وائي چي اشارې پهٔ دي څېزونو باندې مشتمل وي . آوازونه . شکلونه، اشارې . دَ الفاظو ادائیګي ، لیکلي الفاظ او هر هغه څیز چي دَ پېغام رسانی کار کوي. 13

سیموئټک لفظ " پیئرس (نوم ) تجویز کړے دے. هغه دا دلیل وړاندي کړے وُ چي سیموئټک دَ منطق مفهوم سره سمون خوري. پیئرس دا وضاحت کوي چي منطق دَ سیموئټکس دوېم نوم دے . زما مطلب دادے چي داسي نخو خصوصیات مونږ مشاهدي کښي راوستي شو. او دغو نه مونږ داسي تصور جوړولے شو چي منظم مفهوم لري . دا زمونږ بیانیه کښي رهنمائي کوي . دا مونږ ته دَ داسي غلطۍ نشادهي کوي . دي وجي نه دا داسي فهم جوړوي . دَ داسي نخو او علامتونو بیانیه ولاړوي چي مونږ ورته سیمئټک وئیلے شو. دا دَ تجربي نه دَ زده کړے دویم نوم هم دے.

دَ پیئرسن دَ تیورۍ رهنما اصول علامتي چوکاټ او انساني دماغ دي. دا دَ ثلاثي او نسبتا دَ دې سفرونو ( نقش، شماره اشاري ، علامت ) مشترکه فهم ورکوي.

پیئرسن وائي چي دَ نخو دا ترون ډېر مهم دے . هغه دَ دریو بنیادي سیموټک عناصر تعلق داسي ښائي.

- نخبنه ( نمائندګي )

- مقصد ( سیموئټک معمول )

- ترجمه ( معنوي مفهوم )

دَ سیموئټک ماډل انتخاب دې وجې نه وشو چې دا دَ دا قسم تحقیق سوالونو جواب لټولو دَ پاره ډېر مناسب دے . پښتو فلمونو دَ کلتوري بیانیې له پاره نمائندګي ښنګه کړي ده. دغه کردارونو نه دَ کلتوري بیانیې نتیجه ښنګه ماخذ شوه. دا سیموټک ماډل نمائندګی ، مقصد اؤ معنوي مفهمو جوړولو کښې لوئے کردار لوبوي.

دا ماډل دَ پښتون کلتور دَ بې قاعده کرداري استعمال نشاندهي کولو کښې لاس وکړو. دېنه علاوه دے ماډ باقاعده کردارونه هم پۀ ګوته کړل چې پښتون کلتوري بیانیه ئې دَ کردارونو نه وښوله.

## تجزیه ، بحث اؤ نتائج

دَ تحقیق اولني سوال دا ؤ چې " پښتو کلاسیک فلمونو کښې دَ پښتونولی دَ اساس کلتوري بیانیه ښنګه ښودلے شوے ده "

دَ پئرس سیموئټک ماډل دَ ثلاثي اطلاق لاندې دَ نمائندګی ' مقصد" اؤ معنوي مفهوم تجزیه وکړے شوه.

دَ تحقیق دوېم سوال دا ؤ . " دَ پښتو جدید فلمونو کښې دَ پښتونولی دَ اساس کلتوري بیانیه ښنګه ښودلے شوے ده "

دَ څېړني دریّ سوال دا ؤ چې " دَ پښتو کلاسیک اؤ جدید فلمونو کښې کلتوري بیانیه تقابلي جائزه دَ پښتونولی پۀ بنیاد څۀ تفاوتونه لري ؟

## موازناتي جائزه

دَ دغه سوالونو جواب لټولو له پاره اتیا مثبت غټ کردارونه دَ سیموئټک موازناتي تجزیې ته وړاندې کړې شول . اؤ دا مولومه کړې شوه چې دغه کردارونه پښتون کلتوري بیانیې ته څومره نزدو دي. آیا دګه کردارونه دَ پښتو ادب پۀ معیار پوره دي اؤ کۀ نۀ؟

پۀ دې فلمونو کښې څنې کردارونه داسې ښودل شوي دي چې دا دوي پښتو کلتوري اساس سره سمون خوري. ولې پۀ دغه اتیا کرداورن کښې نولس دَ پښتون کلتوري بیانیې مخالف وختل.

دَ اوویشت کردارونو تجزیه دا ثابتوي چې پښتانۀ کلتوري توګه غیرمهذبه دي. دَ شپږویشتو کردارونو ژبه اؤ ډائلاګ دَ پښتون کلتوري بیانیې پۀ ضد وختلې.

دېرش کردارونه داسې ؤ چې پښتون پکښې منفي ښودلے شوے دے. منشیات ، شراب دَ څوارلسو مثبت غټ کردارونو علامت ښودلے شوے دے . دغه رنګ یو کم څلوېښت کردارونه دَ بیهودګی سره مخ وختل . پنځه ویشت کردارونو دَ تشدد اشاعت وښودو. دغه رنګ پنځه دېرش کردارونو جامه پېزار دَ پښتون کلتور خلاف ښودلے شوے دے. 14

## موادي تجزیه

دَ کلاسیک اؤ جدید فلمونو سکرپټ څانله دَ کردارونو پۀ لحاظ وشمېرل شو.

کلاسیک پښتو فلمونه دَ پښتو ادب معیاري تلي لحاظ سره دَ پښتون کلتوري بیانیي سره اتیا فیصده سمون خوري. شل فیصده کلاسیک فلمونو دَ پښتون کلتوراجتماعي تصویر سره مخالف وختل . دغه رنګ مجموعي توګه پښتو کلاسیک فلمونو دَ پښتون کلتوري بیانیي صحیح نمائدګي کړې ده.

ترڅو پورې چي دَ جدید فلمونو تعلق دے نو ۶۰ فیصده کردارونه دَ پښتو ادب معیاري اساسي لاندي منفي ښودلے شوي دي.

۵۸ فیصده فلمونو کښې دَ دوي جامه پېزار ، ژبه اؤ اشارې دَ پښتون کلتور سره مخالف وختلي .

۵۵ فیصده جدید فلمونو کښې پښتنه ښځه یؤ جنسیاتي علامت پۀ توګه استعمال شوې ده

۶۰ فیصده جدید فلمونو پښتون دَ یؤ متشدد ، شرابي ، بې تعلیمه ، غېر مهذبه اؤ دَ خپل کلتور نه ناخبره ښودلے دے . [15]

## نتائج

١. پښتو کلاسیک فلمونو دَ پښتون کلتوري بیانیي پۀ اساس دَ پښتون کلتور صحیح نمائندګي کړې ده.

٢. پښتو جدید فلمونو دَ پښتون کلتوري بیانیي پۀ اساس دَ پښتون کلتور غلطه نمائندګي کړې ده.

٣. ترڅو پورې چي دواړو کښې دَ تفاوتونو تعلق دے. نو پۀ دې کښې ډېر بیروني اؤ اندروني عوامل ملوث دي.

دَ دې مقالې نتائج دَ محمد علي شاه 2018 دَ مقالې " پښتو فلمونو کښې دَ پښتو نمائندګي " [16] اؤ دَ جنېد دَ پښتون قام پۀ شناخت اؤ پښتونولۍ باندې څېړنې سره تر ډېره حده سمون خوري. [17]

ځنې کلاسیک فلمونو کښې ( دَ ۱۹۸۰نه ورستو ) کلاشنکوف ، شراب اؤ انګریزي لباس ښودنه بېروني عوامل لري . افغان جهاد ، دَ پښتنو دَ خپل فلم سټوډیو نیشتوالي ، دَ بیروني فلمونو اثرات ، دَ سیاسي اؤ سماجي بدلون اثرات ، دَ جمهوري اقدارو نه فائده نۀ اخستل ، دَ پښتون ادیب وروستو کېدل ، دَ پښتون فنکار دَ پښتون کلتور نه تېښته ، دَ انټر نېټ اثرات ، دَ امنیت مسئلې ، دَ سینماګانو بندېدل ، دَ ډیورنډ کرښې باندې معروضي حالات ، دَ ایم ایم اے حکومت دَ فلمونو ضد پالیسي ، دَ عوامو سینما باندې عدم اعتماد ، پښتون فنکار ته دَ سهولتي اؤ تربیتي ادارو نشتوالي اؤ ددوي ټولنیز ژوند کښې عدم قبولیت ، دا ټول هغه بېروني اؤ اندروني عوامل دي چي دَ پښتو کلاسیک اؤ جدید فلمونو مېنځ کښې دَ توپیر باعث ګرځېدلي دي.

## سفارشات / توصیات

١، پښتو ادب اؤ څېړنکارۍ له دې طرف ته پاملرنه پکار ده چي دَ پښتو فلمونو وخت سره سم ګرځېدلو بابله علمي اؤ تحقیقي لیک وکړي. پۀ دې اړه پوهنتونونه ، سکالران هڅولے شي چي دَ پښتون قام دَ څوکالۍ اؤ نېک مرغۍ دَ پاره نوے موضوعات اؤ دَ څېړنو پۀ لار دَ پښتون تاریخ اؤ کلتور نه نوي کردارونه لیکوالانو ته پۀ ګوته کړي.

٢. ډویژن پۀ سطحه دے سرکاري سرپرستۍ کښې وړې وړې سینماګاني جوړې کړې شي. چي دَ هرقسمه بېروني دباو نه ازادې وي . شخصي سینماګانو ته دې تحفظ ورکړے شي.

۳. سنسر بورډ کښې دې دَ پښتو نامتو ادیبان کښېنولے شي . چې دَ سکرپټ معیار اؤ کره کتنه کوي.

۴. دَ کلچر ډیپارټمنټ ساخت کښې دې دَ پښتو فلم شامل کړے شي.

## حوالې :


1. سهېل خان، ( 2019) " خېرنې، پښتونولي " اعراف پرنټرز،پېښور.

2. Shah, M. (2018). “ *Pashtun representation in Pashto films”* journal of mass communication in Journalism, 8:382:Doi: 10.4172/2165-7912-1000 382.

3. Lee, M (2016) “ The manipulation and rolw of stereotypes in Rush Hour trilogy. Elon University

4. Arshad, A. (2014). *“The portrayal of women in Pakistan features films urdu and Punjabi (1988-1999); a critical evaluation.* Int Res J social science3:15-20

5. Datta, S. (2000). “ Globalizatoion and representation of Womwn in Indian Cinema “ Social Scientists 28: 71-82

6. جاوید (2013) " پښتو فلمونه دَ پښتو کلتور بربادوي " ایکسپرېس ټریبیون

7. Ambareen , A. (2011) “ Media Imperialism and its effects on the culture of Pakistan.

8. Reeves, N.(2004); the power of Film propaganda.

9. Rehman, G. (2015). Pashtunwali and Islam, the conflict of authority in the traditional Pashtun society, Pakistan Journal & social sciences (PJSS) vol:35(1)297-301

10. https://www.utube.retrivedon 19-06-2019

11. https://www.utube.retrivedon 19-06-2019

12. Shah, M. (2018). “ *Pashtun representation in Pashto films”* journal of mass communication in Journalism, 8:382:Doi: 10.4172/2165-7912-1000 382.

13. Bignell, J. (2002). Media Demiotics : AN introduction : Manchester University Press.

14. Tarzi, A (2011), Measuring Perceptions abourt Pashtun People. CSIS .

15. يوسف جان اتمانزئي " پښتون فلم پښتون کلتور برباد کړو" دَ اے وي تي خيبر پروګرام . 11دسمبر، 2014- اے تي وي نيوز

16. Shah, M. (2018). “ *Pashtun representation in Pashto films”* journal of mass communication in Journalism, 8:382:Doi: 10.4172/2165-7912-1000 382.

17. Junaid, M. (2012). Living the code of honour: Pashtunwali and entrepreneurial identity of Afghans in Pakistan =. London: Queen Mary: University of London